# منتخب غني

د سګرېټو بېخ مې وښکئ
سر مې څُوړ کئ په ګرولو
ډېر سُرونه مې رایاد کړل
یو هم نۀ دے د یادولو
نۀ ټپه شوه نۀ چاربېته
نۀ غزل نۀ نیمکۍ شوه
نۀ قیصه شوه نۀ بدله
نۀ ساقي شو نۀ کوکۍ شوه
شاعري هم یارانه ده
نۀ په زور نۀ په زارۍ شي
نۀ په چل نۀ په هنر شي
نۀ په مال نۀ په خوارۍ شي
شاعري لکه باران دے
کله تندر ګړزهار شي
ناګهانه داسې شرق شي
چې صحرا هم سمندر شي
کله نرم نرم پشم
پوست نازک ریښمین
د نسیم په شان مستانه
د بخمل هسې مهین
کله ښه درنه شېبه شي
په اوږده صحرا ورېږي
کله تور باران د ژمي
نۀ کمېږي نۀ ودرېږي
کله شر د پشکال شي
چرته نمر چرته باران
عجیبه لکه د ژوند
څۀ خفه او څۀ خندان
کله داسې سوکړه راشي
باغ چمن شي کربلا
لا د خاورو وتې نۀ وي
چې بیا خاورې شي لالا
کاش چې وے زما په لاس کښې
د ورېځو پرښتې
ما به هر وخت ښکلې ښکلې
سپینې لړې راوستې
هر ماښام به مې جوړولو
په قبله د بوډۍ تال
هره ورځ به مې ستائیلو
د اشنا د زنې خال
ولې څۀ وکړم جانانه
واک د بل اختیار د بل دے
دا په تا مئینې سترګې
د دوي نُور خُمار د بل دے
دا چې تۀ پرې راته خاندې
د دې سرو شونډو دې څار شم
د دوي ښبېست مستي د بل ده
د دوي سُر سینګار د بل دے
او بس:
دا دومره واک هم بس دے
چې زۀ وېم درته غزلې
تۀ ښبېسته په پستو سترګو
راته ګورې غلې غلې
چې ساعت ګړۍ مشغول شو
بیا به څو زما بلبلې!
مونږ له توره اوږده شپه ده
دې د بل دا ډېوې بَلې